الله دې هغه سړی تازه او ښاد لري چې له مور څخه څه واوري، او لکه څنګه يې چې اوربدلی وي نورو ته يې ورسوي، ځکه ځينې وختونه هغه څوک چې خبر رسوي، له هغه چا نه ښه پوهېږي چې خبر يې اوربدلی وي

له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې ما د رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه اوريدلي چې فرمايل يې: «الله دې هغه سړی تازه او ښاد لري چې له مور څخه څه واوري، او لکه څنګه يې چې اوربدلی وي نورو ته يې ورسوي، ځکه ځينې وختونه هغه څوک چې خبر رسوي، له هغه چا نه ښه پوهېږي چې خبر يې اوربدلی وي».

[صحيح دی] [او ابن ماجه او احمد روايت کړی دی]

نبي صلی الله عليه وسلم دعا وکړه چې الله تعالی دې هغه چا ته په دې دنيا کې ښايست، خوشحالي او ښکلا ورکړي، او په اخرت کې دې هغه چا ته د جنت ښايست، نعمتونه او تازه ګي ورسوي چې د هغه حديث واوري، ياد يې کړي او نورو ته يې ورسوي، کېدای شي هغه څوک چې حديث ورته رسول شوی وي، له اوربدونکي څخه ښه پوه او ځيرک وي، نو لومړی کس په حفظ او روايت کې مهارت لري، او دويم کس په پوهه او استنباط کې.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/6820